مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۵/۱۲/۱۵

# د یهودو عادلانه جګړې
## (یوسل او څوارلسمه برخه)

**له اسراییلو د امریکایانو ملاتړ او لویه بیه (۹)**

**پر عراق د امریکا او متحدینو دویم یرغل (۲۰۰۳- ۲۰۱۱ز)**

کله چې امریکایانو او متحدینو یې پر افغانستان یرغل وکړ او په لومړیو کلونو کې د دوی پر وړاندې د افغانانو مقاومت ډېر نه ؤ نو د امریکا ولسمشر بوش او انډیوالانو ته د افغانستان نیول اسان ښکاره شول خو بوش دغه تاریخي وینا نه وه اوریدلي چې **(د افغانستان نیول اسان دي خو ساتل یې ګران او ناشوني دي.)** هغه وو چې بوش او امریکایي چاروکي په دې هڅه کې شول چې **د اسراییلو د امنیت په موخه پر عراق برید وکړي** او په عراق کې د ولسمشر صدام حسین حکومت نسکور کړي.

سره له دې چې د امریکا ولسمشر جورج بوش یو جګړه‌غوښتونکی او سیاسي بدماش ؤ، د امریکا د بهرنیو استخباراتو سي‌آی‌ای له‌خوا وغولول شو. سي‌آی‌ای چې له آره د اسراییلو د ګټو ساتونکي او سرپرېکړي یاران دي، په دې هڅه کې وه چې په هر شکل کیږي باید د اسراییلو د خوندیتوب لپاره، د صدام حسین حکومت راوپرځول شي، هغه وو چې سي‌آی‌ای بوش ته داسي جعلي مالومات ورکړل چې ګواکې د صدام حسین حکومت اتومي او کیمیاوي وسلې لري چې د امریکا لپاره لوی خطر ګڼل کیږي.
په دغه توطیه کې د اسراییلو استخبارات (موساد) او د انګرېزانو بهرنیو استخباراتو (ایم.ای۶) پوره مرسته کړي وه چې په پایله کې جورج بوش پر عراق د برید پرېکړه وکړه.

د ۲۰۰۳ ز. کال د مارچ پر ۲۰مه نېټه، د امریکا او انګرېزانو په مشرۍ د یوه نړیوال ایتلاف په ترڅ کې پر عراق ناڅاپي برید پیل شو. د عراق پوځ شاوخوا د دریو اونیو جګړې په اوږدو کې په بشپړه توګه مات او وپاشل شو.

په داسي حال کې چې له برید وړاندې د امریکایانو او انګرېزانو له‌خوا هیڅ ډول د جګړې اعلان نه ؤ ورکړای شوی[1] **چې دا ډول ناڅاپي بریدونو ته د ترهګرۍ په ډولونو کې (دولتي ترهګري) ویل کیږي.**

امریکایي او انګرېزي ځواکونو د عراق په شمال کې د کردانو د (پیش‌مرګه) په نوم وسله‌والو ځواکونو په مرسته چې شمېر یې شاوخوا (۷۰،۰۰۰) تنو ته رسیده، د صدام حسین ځواکونو پر وړاندې جګړه کوله[2] او نړدې څلویښتو نورو هیوادونو هم د عراق په جګړه کې د ایتلاف په نوم ونده اخیستي وه.

لکه څرنګه چې په افغانستان کې امریکایانو د شمالي ټلوالي په مرسته ځمکنۍ جګړه پیل، همدا شان په عراق کې کردانو له امریکایانو سره متېپه‌مټ ځمکنۍ جګړه پرمخ بیوله.

---

[1] :Friedman, G. : What Happened To The American Declaration Of War?, *Forbes*, 30 March 2011.
[2] :*MAJ Isaac J. Peltier.* "Surrogate Warfare: The Role of U.S. Army Special Forces". *U.S. Army. p. 29. Archived from* the original *on 11 February 2009.* Retrieved *13 September 2009.*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د عراق جګړه د یرغلګرو لپاره ډېره سخته وه تر دې چې **«د امریکا پوځ په دې جګړه کې (د کمزورو یورانیمو او سپین فاسفورس) وسلې وکارولې چې د نومورو منع شوو وسلو د کارولو له امله د فلوجې (فلوجه) په ښار کې د حاملو ښځو د ماشومانو د بېوخته زیانولو سبب شوې او د پراخو سرطانونو عامل وګرځېدې.»**[3]

اټکل کېږي چې د یرغل په لومړي پړاو کې چې د ۱۳۸۱ل. ل، کال د کب له ۲۹مې څخه، د ۱۳۸۲ل. ل، کال د وري میاشتې تر ۲۰مې نېټې پورې یې دوام وکړ، **شاوخوا (۳۰٬۰۰۰) عراقي پوځیان او (۳٬۷۵۰) بېوسلې عام عرقیان، د ایتلافي ځواکونو لهخوا ووژل شول. دغو ځواکونو اعلان وکړ چې په دې برید کې (۱۳۹) امریکایي پوځیان او (۳۳) انګرېز پوځیان وژل شوي دي.**[4]

امریکایي او نورو بهرنیو یرغلګرو ته د عراق خاوره هغه مهال سور اور وګرځېده چې یرغلګرو د عراقیانو پر وړاندې هر ډول وحشي او نا انساني کړنې تر سره کړې، امریکایانو په جګړه کې منع شوې وسلې وکارولې.

ـ د کردستان سیمې (چې د تېلو بدایه سیمې دي) **د کردانو لپاره فدرالي خپلواکي ورکړای شوه چې دا د عراق لپاره یو ډول د وېش پیل بلل کیده.**

ـ د امریکا په مشرۍ ایتلافي اشغالګرو ځواکونو د ۲۰۰۳ز. کال په اوړي کې، د عراق د پخواني حکومت د مشرانو د نیولو هڅې ګړندۍ کړې چې په دغو کسانو کې د ۱۳۸۲ل. ل کال د چنګاښ په میاشتې کې **امریکایي هوایي او ځمکنیو ځواکونو د صدام حسین دوه زامن او یو لمسی ووژل.**
یرغلګرو د صدام حسین د بعث ګوند له (۳۰۰) څخه زیات قوماندانان او مشران او ګڼ شمېر ټیټ پوړي کسان ونیول او ډېر یې ووژل.

ـ صدام حسین چې د امریکایانو لهخوا نیول شوی ؤ، د ۲۰۰۴ز. کال د جون په ۳۰مه نېټه د عراق لنډمهالي او لاسپوځي حکومت ته وسپارل شو **چې بیا د ۲۰۰۶ز. کال د دسمبر په ۳۰مه نېټه اعدام کړای شو.**

ـ سره له دې چې امریکایي پوځیانو د عراقیانو په سر او مال صرفه ونه کړه بلکې د عراق د خلکو پر ناموس یې هم تیري وکړل چې د دغو بېناموسیو څخه یوه پېښه داسې ده چې **«د امریکا د ځمکني پوځ د ۵۰۲یمي پلي لواء پنځو تنو پوځیانو، د ۱۳۸۴ل. ل، کال د کب پر ۲۱مه نېټه پر یوې ۱۴ کلنې عراقي جلکۍ، (عبیر قاسم حمزه الجنابي) باندې جنسي تېری وکړ او وروسته یې هغه، د هغې مور او پلار او د هغې شپږ کلنه خور (هدیل) ووژل. دغو پوځیانو د خپل جرم د پټولو په موخه د جلکۍ مړی په اور وسوځاوه.»**[5]

**ـ د عراق د ابوغریب په زندان کې د امریکایانو لهخوا د بندیانو شکنجې له انساني کړنو بهر وې چې خورا زړه بوږنوونکې وې چې د ټولې نړۍ خبري رسینو د سر خبر ؤ.**

د امریکایانو لهخوا د عراقیانو وژنې او ځورونې د دې سبب شوې، هغه عراقیان چې د صدام حسین مخالفین وو، هم د یرغلګرو او د عراق د لاسپوڅي حکومت پر وړاندې وسلې ته لاس کړي او نوې نوې مذهبي جګړهماری ډلې رامنځ ته شې، د عراقیانو د پاڅونونو له امله، که له یوې خوا یې پر یرغلګرو خوب حرام کړی ؤ، له بده مرغه خپل منځي مذهبي جګړې هم پیل شوې، په دغو ډلو کې سربېره د القاعدې پر ډلې، د شیعهګانو، داعشیانو او نورو ډلو ترمځ سختې جګړې پیل شوې.

په ۲۰۰۴ز. کال کې په فلوجه کې، پر امریکایي ځواکونو د سرک غاړې بمونه؛ د ښښه ویشتونکي (سناپیري) بریدونه؛ د ښار په هره کوڅه کې سخت مقاومتونه او د فلوجې په دویمه جګړه کې د ټول ښار نیول سخته خونړۍ جګړه وه.

---

[3] :"Iraq crisis: Isis gains strength near Baghdad as Kurdish forces seize Kirkuk". *The Guardian*. Retrieved 12 June 2014

[4] :"Operation Iraqi Freedom | Iraq | Fatalities By Nationality". *iCasualties*. 2010-05-28. *Archived from* the original *on 1 February 2014*. Retrieved 2014-04-23.

[5]: جزئیات تکان دهنده قتل «قاسم جنابی» و اعضای خانواده‌اش. *عصر ایران*.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د بغداد پر هوايي ډګر بريدونه؛ د موصل او انبار په ولايتونو کې د يرغلګرو ځواکونو پر وړاندې کمينونه او سرتيري (ځانمرګي) بريدونه؛ په کربلا کې بريدکوونکي (چې د پېژندنې کارتونه يې درلودل) د امريکايي ځواکونو پنډغالي ته ننوتل او ډېر پوځيان يې ووژل. (۲۰۰۷ز)
تر دې چې په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ز. کلونو کې، هغه مهال چې امريکايي ځواکونه له عراق څخه د وتلو په حال کې وو، د دوی پر کاروانونو سخت وژونکي او غچ اخيستونکي بريدونه وشول.

خو په دې ټولو جګړو کې د امريکايانو پر زندان، (ابو غريب) باندې ډېر بريالی او مخامخ بريد ؤ چې په اړه يې لنډ مالومات وړاندې کوو:

په ابو غريب زندان باندې خونړی بريد د ۲۰۰۵ز. کال د اپرېل په ۲مه نېټه، د عراق د پاڅونوالو لخوا په زندان کې پر امريکايي ځواکونو پيل شو. په دې بريد کې پاڅونوالو پر امريکايي ځواکونو باندې دوه موټر بمونه وچاودول چې يو يې د زندان له دروازې سره وچاودول شو. او بيا يې له درنو هاوانونو، راکټونو، لاسي بمونو او سپکو وسلو په کارولو سره يرغل وکړ.[6]
دا جګړه دومره سخته وه چې د جګړې په اوږدو کې **«د امريکايي ځواکونو مهمات مخ په خلاصېدو وو او امريکايي ځواکونو ته امر وشو چې لاس او کربوان جګړې ته چمتو شي.** اټکل کېږي چې شاوخوا له ۸۰ تر ۱۲۰ تنو پورې عراقي وسلهوال په دې همغږي عملياتو کې چې د امريکا پر پوځي پنډغالو او د ابو غريب پر زندان ترسره شوي ګډون کړی وو.[7] **په دې بريد کې له ابو غريب زندان څخه، بريدکوونکو وکولای شول لږترلږه (۵۰۰) تنه بنديان (چې ډېری يې د القاعدې ډلې لوړپوړي غړي او پر اعدام محکوم شوي وو) له زندانه خوشي کړل.**
د امريکايي ځواکونو د مرګ ژوبلې په اړه بېلابېلې څرګندونې شوي دي، **ويل کېږي چې شاخوا (۴۰) امريکايي ځواکونه په کې وژل شوي دي.**[8] په کال ۲۰۰۷ز. کې د عراق جګړه داسې کچې ته ورسېده چې مجاهدينو په يوه ورځ کې پر اشغالګرو باندې له (۱۳۰) زيات بريدونه ترسره کول چې په اړه يې د امريکا دفاع وزارت **«پېنټاګون د لينډۍ په ۲۷مه نېټه راپور خپور کړ، ويې ويل چې ياغيانو [مجاهدينو] په منځنۍ کچه په يوه اونۍ کې (۹۶۰) بريدونه کړي وو. چې دا شمېر بريدونه، د ۲۰۰۵ز. کال را په دېخوا تر ټولو ډېر بريدونه دي.**[9]
کله چې امريکايان په ۲۰۱۱ز. کال کې له عراقه ووتل نو عراق د (۲۰۱۴ز) کال په منځ کې په ډېر ناوړه حالت کې پاتې ؤ. له انتخاباتو وروسته، حکومت لا نه ؤ جوړ شوی چې د اړودوړ کچه ډېره لوړه شوه، **د عراق او شام اسلامي دولت (داعش) د ۱۳۹۳ل. ل کال، د غبرګولي په مياشت کې د عراق د موصل او تکريت ولايتونه ونيول، اعلان يې وکړ چې بغداد هم لاندې کوي.**
هغه وو چې په ۲۰۱۴ز. کال کې بيا يو شمېر امريکايي پوځيان د داعش د پرمختګ د مخنيوي لپاره عراق ته ستانه شول... .

په عراق کې د اشغالګرو او لاس پوڅي حکومت او فرقهييزې جګړې په بېلابېلو بنو رواني وې، لنډه دا چې **که له يوې خوا امريکايانو شاوخوا (۱۰۰،۰۰۰) عراقي وګړي ووژل**[10] او عراق يې وران کړ خو له بلې خوا دوی هم روغ پاتې نه شول **او د اسراييلو د امينت لپاره يې (۴۵۰۰) امريکايي پوځيان د پسونو غونډې قرباني کړل** او له ډېر مالي زيان سره مخ شول چې په لنډو يې يادونه کوو:

د ۲۰۱۱ز. کال د ډسمبر پر ۱۵مه نېټه په بغداد کې د (شنه زون) په سيمهييز هوايي ډګر کې د رسمي مراسمو پر مهال د امريکا د دفاع وزير (ليون پنيټا) په ګډون، امريکا په عراق کې د خپل پوځي شتون پای په رسمي توګه اعلان کړ.

---

[6]: در حمله به زندان ابوغريب 20 آمريکايي و 12 زنداني زخمي شدند .«ايسنا. دريافتشده در ۱۸-۰۹-۲۰۱۵.
[7] :"Insurgents attack Abu Ghraib prison". *CNN. 3 April 2005.*
[8] :"Iraq: hundreds escape from Abu Ghraib jail". *The Guardian. London. Associated Press. 22 July 2013.* Retrieved *19 January* 2014.
[9] :"Attacks in Iraq at All-Time High, Pentagon Report Says". *PBS. 19 December 2006. Archived from* the original *on 15 January 2014.* Retrieved *24 September* 2015.
[10] :«US exit from Iraq: 'this is not a withdrawal, this is an act on a stage'».


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپلې ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

لیون پنیتا په خپله وینا کې وویل:«**د عراق جګړه موږ ته د وینو او ډالرو له پلوه په ډېره لوړه بیه تمامه شوه؛ شاوخوا (۷۵۰) میلیارده ډالر لګښت، (۴۵۰۰) امریکایان وژل شوي او (۳۲۰۰۰) امریکایان ټپیان شول.**»[11]

د ۲۰۱۳ز. کال د مارچ میاشتې په راپور کې، د امریکا د براون پوهنتون اړوند د واټسن نړیوالو مطالعاتو انستیتوټ **د جګړې ټول لګښت د امریکا لپاره شاوخوا ۱/۷ ټریلیون ډالر اټکل کړی دی. منتقدین باور لري چې له بانکي سودونو سره به د جګړې ټول اغیز تر (۲۰۵۳ز) کال پورې د امریکا اقتصاد ته د (۳ تر ۶) ټریلیونه ډالرو پورې ورسیږي.**

لکه وراندې یې چې یادونه وشوه، د عراق دویمه جګړه د اسراییلو د شیطاني او ټګۍبرګۍ له کبله پر امریکایانو او غربیانو وتپل شوه، اسراییلي او انګریزي استخباراتو، د سيآیاي په همکارۍ وکړای شول د امریکا ولسمشر جورج بوش او نور ډېر چاواکي په دې نوم وغولوي چې«د صدام حسین حکومت اټومي او کیمیاوي وسلې لري نو که دا وسلې له منځه ولاړې نه شي د امریکا لپاره سخت خطر دی.»
په داسې حال کې چې ولسمشر صدام حسین اټومي او کیمیاوي وسلې نه درلودلې، بیا هم که په عراق کې اټومي او کیمیاوي وسلو شتون درلودلی، امریکا ته یې خطر نه ؤ، بلکې خطر اسراییلو ته ؤ نو په حقیقت کې امریکایانو د اسراییلو پر وراندې د خطر د مخنیوي لپاره په عراق کې جګړه وکړه.

وروسته له هغې چې په ۲۰۰۸ز. کال کې د امریکا د ولسمشرۍ په ټاکنو کې جورج ډبلیو بوش ناکام شو او پر ځای یې د ډیموکراټ ګوند نوماند (بارک اوباما) بریا تر لاسه کړه، بوش په ډاګه وویل چې «**زما د ولسمشرۍ پر مهال، زما تر ټولو لویه پښیماني، د عراق په اړه د استخباراتو ناسم مالومات او ناکامي وه.**»[12]

د امریکا د هغه مهال د بهرنیو چارو وزیر (کلن پاول) وروسته اقرار وکړ چې د عراق په تړاو یې چې کوم مالومات د امریکا ملي شورا ته وراندې کړي وو ناسم وو **او پر کومو مالوماتو چې ټینګار شوی ؤ، په ځینو برخو کې په لوی لاس ګمراه کوونکي وو.**[13]

د یادولو ده چې نه یوازې بوش، د خپل ناوړه او احمقانه سیاست له امله عراق او امریکا له مالي او ځاني زیانونو سره مخ کړل، بلکې په خپله هم د دغې جګړې له کبله له یوې تاریخي ناکامۍ او سپکاوي سره مخ شو، ناکامي یې دا وه چې د ده په مشرۍ، امریکایانو ونه شول کړای په سیمه کې سوله رامنځ ته کړي، برعکس سیمه یې د یوې اوږدې مودې لپاره ناامنه کړه او شخصي سپکاوی یې هغه ؤ چې کله د نوموړي د ولسمشرۍ دوره پای ته ورسیده نو عراق ته یې سفر وکړ، ترڅو عراقیانو ته خپلې وروستۍ خرګندونې خرګندې کړي، هغه وو چې بوش د یوې غونډې پر مهال د یو کس عراقي خبریال لهخوا په بوټونو تېر کړای شو. پېښه داسې وه چې «د ۲۰۰۸ز. کال د ډسمبر په ۱۴مه نېټه، د بغداد په ښار کې د لومړي وزیر په ماڼۍ کې د یوې غونډې پر مهال، عراقي خبریال **(منتظر الزیدي) د امریکا ولسمشر بوش د وینا پر مهال په خپلو دواړو بوټونو وویشت.** الزیدي د لومړي بوټ د ګوزارولو پر مهال په عربي ژبه ناري کړې: **دا د عراق د خلکو له خوا د خدای پاماني ښکلول (مچول) دي، ای سپیه!**»[14] بوش
د بوټونو له برید څخه دوه ځله ځان ټیټ کړ او وېې کړای شول له دواړو بوټانو ځان وژغوري او د عراق لومړي وزیر (نوري المالکي) هڅه وکړه چې د یو بوټ مخه په خپل لاس سره ونیسي چې د بوش ساتنه وکړي. الزیدي د د امریکا د امنیتي شرکت (**بلک واټر) د ساتونکو له خوا پر څمکه وغورځول شو او وروسته د مالکي د ساتونکو له لوري ونیول**

---

[11]:هماغه سرچینه.
[12] :*Goldenberg, Suzanne (2 December 2008).* "Iraq war my biggest regret, Bush admits". *The Guardian. London.* Retrieved *2 December* 2008.
[13] :"Evidence on Iraq Challenged," Joby Warrick, The Washington Post, 19 Sep 2002
*14:* در سفر به عراق به بوش کفش پرتاب شد *. اخبار بی‌بی‌سی. ۱۴ دسامبر ۲۰۰۸*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

**شو، ووهل شو او په بېره له هغه خایه وایستل شو. پر هغه غالی چې الزېدي د امنیتي کسانو له خوا وهل شوی ؤ، دېرې تویې شوې وینه لیدل کېده.[15]**

بوټ په عربي نړۍ کې ناپاک ګڼل کېږي. له ډېرې مودې راپدېخوا، د امریکا د ګڼو ولسمشرانو مجسمې په ټول منځني ختیځ کې د کرکې ښکاره کولو په پار په بوټونو ویشتل شوې دي.

الزایدي په عراق کې د امریکا د لاسپوڅي حکومت لهخوا په درو کلونو بند محکوم شو چې بیا یې دوه کاله ورته کم کړل چې وروسته له نهو میاشتو بند څخه د ۲۰۰۹ز. کال د سپتمبر په ۱۵مه نېټه په دې دلیل له بنده خوشی کړای شو چې پخوا یې جرمي سابقه نه درلوده.[16]

دا وو په عراق کې د امریکایانو د دویمې جګړې په اړه مالومات چې په حقیقت کې د اسراییلو د خوندیتوب لپاره ترسره شوې وه خو بیا هم اسراییل خوندي پاتې نه شول، لکه څرنګه چې د اشغالګرو اسراییلو ژوند په وېره او ناهیلی کې تېرېږي، همداسې به د دوی راتلونکې نسلونه د تل لپاره په وېره او تباهي کې ژوند تېروي، په دې شرط چې د فلسطینیانو حقه حقوق په نظر کې ونه نیسي.

نېټه: ۱۴۰۴/۹/۰۲ل.ل

**نور بیا**

[د ښاغلی محمد انور اخڼ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.]

[15]:[تور خداحافظی بوش از عراق و افغانستان با مخالفت‌ها خدشه‌دار شد] . [سانفرانسیسکو کرونیکل] . *آسوشیتدپرس. ۱۵ دسامبر ۲۰۰۸*.
https://en.wikipedia.org/wiki/George_W._Bush_shoe-throwing_incident#cite_ref-Loven_Zaidi_blood_22-0

[16]: په دې لاندې لېنک کې د بوش د ویشتلو پېښه وګورئ.
https://www.youtube.com/watch?v=_RFH7C3vkK4


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ